**مطبوعاتي اعلامیه**

# اې مسلمانانو! د بابري مسجد عزت او درنښت بېرته راوګرځوئ

په داسې حال کې چې موږ لا د کشمیر د اشغال او بشپړې تجزیې په حال کې یو، ظالم هند یو ځل بیا د خپل هېواد د مسلمانانو د ځپلو او ناهیلي لپاره یو بل ګام پورته کړ او د بابري جومات ځمکه یې افراطي هندوانو ته وسپارله چې د «رام» افسانوي معبد پکې جوړ کړي. دا اوس ښکاره شوې چې هند د هندوتوا ایډیالوژۍ په پلمه د هند یوه ډېره ناوړه جیوپولیټیکي هیله په راغوړېدو ده؛ په دې کې د امریکا پوره ملاتړ ورسره دی. امریکا غواړي په سیمه کې یو شریر اجنټ جوړ او پیاوړی کړي، کټ مټ هماغسې لکه په منځني ختیځ کې یې چې د یهودو نامشروع دولت پیاوړی کړ. لکه څرنګه چې اشغالګر غرب د خاینو مسلمانو واکمنانو په مرسته د یهودو غیر قانوني کمزوری دولت داسې وښود چې ګواکې نه ماتېدونکی دی؛ اوس هماغه تګلاره غواړي د همدې خاینینو په مرسته پلې کړي او کمزوری هند د سیمې په کچه یو قدرت وښيي، ترڅو امت له ناوړه وضعیت سره مخ کړي او د دویم راشده خلافت د راګرځېدو لپاره یې د هیلو کړکۍ وتړي. له همدې امله هند یو پر بل پسې د مسلمانانو پر وړاندې ناوړه دسیسې پلې کوي او د مسلمانانو بې زړه او خاین واکمنان یې ګام اخیستلو ته مشروعیت ورکوي.

ومو لیدل چې د اماراتو خاین حاکم، هند ته د کشمیر له بشپړ سپارلو څخه څو ورځې ورسته د خپل هېواد تر ټولو لوړ مډال قصاب مودي ته ورکړ. همدا راز مو ولیدل چې بل خاین عمران خان، د پاکستان زړور امنیتي ځواکونه پرېښښودل چې د هند د یرغل ځواب ورکړي او هڅه یې وکړه چې په خالي خبرو او ټوېټونو سره د امت پام له دغه دردناک وضعیت څخه بلې خوا ته واوړي. د حسینې فرېبکار حکومت د امت د ملاتړ لپاره په ځانګړې توګه د بابري مسجد په اړه د غږ پورته کولو پر ځای، هغه د هند داخلي موضوع وبلله او ویې ویل چې د دغې قضیې په اړه د هېڅ ډول شخړې زغم نه لري!

**اې مسلمانانو!** د بابري مسجد لپاره له ۲۰۰۰ څخه ډېرو مسلمانانو خپل سرونه ښندلي، بیا هم د حسینې رژیم د دغه مسجد پر ځای د یو معبد جوړېدل د هند داخلي موضوع بولي!! د دغه رژیم له نظره د مسلمانانو وینه، عزت او سپېڅلي ځایونه د خپل مشرک بادار د خوښۍ لپاره ډېر بې ارزښته دي. دوی له موږ غواړي چې د هند خیالي واکمني ومنو او په سیمه کې د هندوتوا د برترۍ پر وړاندې غلي کېنو. نو له دغه ذلت څخه د خلاصون او عزت تر لاسه کولو یوازینۍ لار دا ده، ترڅو د حسینې خاین رژیم رانسکور کړو چې د هند د برترۍ او ګټو تابع دی. همدا یې وخت دی چې له **حزب التحریر** سره د خلافت د بیا تاسیس لپاره کار وکړو. پیغمبر صلي الله علیه وسلم فرمایي:

**«إِنَّمَا الْإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ وَيُتَّقَى بِهِ»**

(مسلم)

***ژباړه:*** *امام (خلیفه) هغه ډال دی چې تر شا یې جګړه کېږي او پر هغه باندې ځان ساتل کېږي.*

له شک پرته، رسول صلی الله علیه وسلم رښتیا وایي! یوازې خلیفه کولای شي د مسلمانانو له وینې، عزت او مسجدونو څخه دفاع وکړي؛ لکه څرنګه چې سلطان عبدالحمید د فلسطین له سپېڅلې خاورې څخه ساتنه وکړه. یهودانو د طلا میلیونونه سکې د دولت خزانې ته وړاندې کړې، خو هغه د پام وړ نړیوالو فشارونو پر وړاندې بیا هم سر ټیټ نه کړ او یهودانو ته یې اجازه ور نه کړه چې په فلسطین کې مېشت شي. ده په دغو تاریخي خبرو ځواب ورکړ: «یهودان دې هغه د طلا سکې له ځان سره وساتي. کله چې خلافت ړنګ شو، هغه وخت فلسطین له کومې بیې او لګښت پرته ترلاسه کولی شي. خو تر هغه وخت پورې چې زه ژوندی یم، دا غوره بولم چې په توره ووژل شم، نه دا چې د فلسطین ځمکه د خلافت له دولت څخه بېله ووینم.»

**اې مسلمانانو!** د خلافت قریب الوقوع او حتمي دولت به ډېر ژر د مسلمانانو خاورې سره یو ځای او خپل زړور لښکر به د هند د نیولو لپاره واستوي. هغه وخت به د مسلمانانو د دغه دښمن ماتې او رسوایي ووینئ او د رسول صلی الله علیه وسلم زیری په ځانګړي توګه «د هند فتح» (غزوه هند) ان شاًالله رښتیا کېږي. له ابو هریره رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی:

**«وَعَدَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزْوَةَ الْهِنْدِ فَإِنْ أَدْرَكْتُهَا أُنْفِقْ فِيهَا نَفْسِي وَمَالِي وَإِنْ قُتِلْتُ كُنْتُ أَفْضَلَ الشُّهَدَاءِ وَإِنْ رَجَعْتُ فَأَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ الْمُحَرَّرُ»**

[سنن النسایي]

***ژباړه:*** *رسول صلی الله علیه وسلم له موږ سره پر هند باندې د برید ژمنه راکړې. که تر هغه وخت پورې ژوندی پاتې شوم، خپل ځان او شتمني به په همدې لاره کې ولګوم. که ووژل شوم، له غوره شهیدانو څخه به یم او که ژوندی پاتې شوم او بېرته راغلم، ابو هریره محرر به وم (محرر هغه څوک دی چې له اور څخه ژغورلی شوی وي.)*

## حزب التحریر-ولایه بنګلدیش مطبوعاتي دفتر

**۱۴۴۱ هـ.ق، د ربیع الاول ۱۶مه**

**۲۰۱۹م کال، د نومبر ۱۳مه**

گڼه: ۰٦/۱۴۴۱